مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

څېړنوال دکتور عبدالغفور لېوال ۲۰۲۴/۰۸/۱۳

**هر نوی ځکه ‌ زوړ دی، چې بل نوی ورپسې راځي.**

# موډېرنیزم، پس‌موډېرنیزم
# او
# پښتو شعر
## لومړۍبرخه

په انسان کې د ښکلاخوښوونې (Aesthetics) ذوق بدلون‌خوښی (Innovative) دی. په دې لړکې د فردي تجربو او مشاهدو زیاتېدل تولیز ذوق هم بدلوي. انسان په هنر کې د مکاشفي تلوسه خوښوي. د تجربو، فکري تمریناتو او د نړۍ، فرد او ځان پېژندنې په برخه کې نوې پوهنیزې بریاوې په هنر او ادبیاتو کې هم ذوقي لېوالتیا پېچلې کوي.

لرغونیو انسانانو د ګلاب تصویر خوښاوه. د منځنیو پېریو انسانانو هغه ګلاب خوښېده، چې د اور په لمبو کې هم تازه او ښکلی ښکاري. ښایي د نن زماني انسان وغواړي د یوه تکتور ګلاب د زړه په خبرو وپوهیږي. دا ځل انسان غواړي پوه شي، چې ګلاب د ده (انسان) په اړه څه فکر کوي؟ پس‌موډېرنیست انسان یا په ګلاب کې حلول کوي او یا ګلاب په ځان بدلوي او بیا د هغه له زاویې خبرې کوي.

د انسان هستي بهېدونې، سیّاله او جاري ده، ځکه خو هرکله، چې یې د انساني ژوند د شرایطو د لا ښه کولو لپاره فکر و عمل نوي دریځ ته ورسیږي، همدا انسان تر پخواني هغه موډېرن ګڼل کیږي. موډېرنیزم په هنرونو، ادبیاتو او صنعت کې ښایي له تاریخي منطق ( د زمان و مکان له قید سره سم) مطالعه کړلای شو، خو د ځانپوهې، پنځپوهې (طبیعت‌شناسی) او انسانپوهې(بشرشناسي) له لیدلوریو یې په کومه ټاکلې زمانه پورې ترلی نه شو.

له دې دویم منطق سره سم هر موډېرن زړیږي، هر پس‌موډېرن د تېر موډېرن ځای نیسي او د نوي پس‌موډېرن رارسېدل حتمي ایسي.

تر دې لنډې یادونې روسته، ښایي په دې تم شو، چې په ادبیاتو، هنر و صنعت کې هغه موډېرنیزم، چې له تاریخي میتود سره سم پرې خبرې کیږي، څه او څنګه دی؟

د موډېرنیزم تاریخي دوره په اروپا کې ترفرهنګي پاڅون روسته راپیل شوه. هغه مهال، چې د صنعتي کېدو او پانګوالی د لومړیو پړاوونو راپیلېدو د منځنیو پېړیو زمانه پای‌ته ورسوله. په بله ژبه موډېرنیزم له رېنېسانس سره ګام په ګام راوخوځېد، چې مهمې ځانګړنې یې دا دي: د ښاري کېدو او ښاري ژوند پراختیا، د نویو پوهنو وده و پراختیا، په پوهنیزو، تولنیزو، سیاسي او نورو اړخونو کې د تولیزو (جمعي) بحثونو رامنځته کېدل، له مذهب څخه د سیاسي بنسټونو بېلتون، د ښاري تولنې یوه نوې بنه موندل، چې په هغه کې د خلکو ګډون بنسټي اصل و او په تولنیزه بنه انسانمحوریت. دا دوران په اروپا کې له شپاړسمې میلادي پېړۍ راپیل او تر نن زماني پورې راغځېدلی دی. د



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په خیر و لولئ

موډېرنیزم فکري بهیر ته څلورو پېښو خوځون ورکړ؛ ۱- علمي او بیا صنعتي - تکنولوژیک انقلاب، ۲- د تجارتي تولیداتو د لېږدرالېږد چټکتیا، چې د پراخې بشري جغرافیې هستوګن وګړي یې خپلمنځي تفاهم او د افکارو ادلون بدلون ته هڅول (د امریکا خپلواکي او د یوه نوي صنعتي هېواد په حیث یې رامنځته کېدل)، ۳- ولسواک انقلابونه (په تېره بیا د فرانسي لوی انقلاب)، ۴- سېکولریزم و انسانمحوریت.

د موډېرنیتي یوه مهمه ځانګړتیا د فکر کولو خپلواکي او د نویو فیلوسوفیکو مکتبونو رامنځته کېدل وو. موډېرن انسان ځانته حق ورکړ، چې فکر وکړي او خپل فکر بیان کړي. هغه حاشیې چې د ده په خپلواک تفکر یې د سانسور سیورى غوړاوه، رنګې یې کړې. دې کیسې د روښانتیا زمانه راپیل کړه، څکه خو په ګڼو بحثونو کې د روښانتیا دوره له موډېرن دوران سره یوه یا هممانا ګڼل کېږي. پر تفکر او پوهه دومره ټینګار وشو، چې رنه دېکارت یوې عجیبې پایلې ته ورسېد: « له عقلي او پیاوړي دلیل پرته نه ښایي هېڅ باور ومنو!». خو پر وګړوال Individual عقل دومره ټینګار روسته روسته د وګړوالي پوهې پر نیمګړتیا شکونه راوپنځول. له دېکارت څخه تر کانت پورې ګڼو موډېرنو فیلوسوفانو پر «یوازې عقل» ټینګارکاوه. روسته مارکس، چې تولنپال تفکر یې پاله، پر وګړوال محض عقل دومره تکیه تر نیوکې لاندې راوسته او فریدریک نیڅه په ټول موډېرنیزم څکه نقد کاوه، چې ګواکي بنسټ یې یوازې وګړوال عقل و. د پس‌موډېرنیستانو یوه هڅه دا وه، چې فکري بهیرونه، هنري پنځونې، ادبي تولیدات او ان فیلوسوفیک افکار یې ټولیز کېدو ته راکاږل. پس‌موډېرنیستانو تر وګړوال Individual عقلانیت ورهاخوا ګڼ هغه ارزښتونه د یوې ټولنې پر تفکر و نړۍلید واکمن ګڼل، چې تل وو، شته او وي به. له اسطورو رانیولې، تر ادیانو، ایډیولوژیو او د نړۍ تر میتافیزیکي تفسیر وپېژاند پورې.

د موډېرنیزم په بهیر کې ولې ادبیات، هنرونه، صنایع او بشري علوم ډېر مخې ته راځي؟

یو دلیل یې دا دی، چې دا ټول د یوې تاریخي دورې د انسان او ټولنې د تفکر هینداره دي. موږ د اتلسمې پېړۍ د روښانتیا دورې اصلي بیانیه او بنسټي افکار د هغې زماني په ادبي اثارو، انځورګریو، موسیقۍ، تیاتر، مجسمه‌جوړونې او معمارۍ کې ګورو.

ادبیات په دې ټولو کې مخکښ شول. دانتي الیګیري لا په دیارلسمه/ څوارلسمه پېړۍ کې د انسان لاس ونیوه او دوزخ و جنت و برزخ ته یې وروست. تر خپلې زماني ډېر روستی تفکر، دا چې د بلې نړۍ په اړه څه راته ویل شوي؟ په خپل ځای، خو دا چې زه یې څنګه ګنم؟ دا هرڅه دانتي په الهي کومېډي کې د خپلې معشوقې «بیاتریسي» په لارښوونه راښیي. موډېرن تخیل د موډېرن تفکر بنسټ کېښود. اصلاً د موډېرن تخیل او موډېرن تفکر اړیکه لکه د چرګې وهګۍ داسې ده، یو له بله زیږي. تر دانتي راروسته انسانپال تفکر، چې د رېنېسانس ترټولو مهم وینتیایي پړاو دی، د فرانچسټو پترارک، پیکو لامیراندولا، اراسموس او بوکاچو له خوا وپالل شو.

په پښتو ادبیاتو کې به یو مثال راوړو، په زړه پورې ده که ووایو، د خپلې زماني له مقیاس سره سم، د خوشال ختک په شعرونو کې د موډېرنیزم نښې و رګونه ډېر څرګند او ښکاره دي، دومره، چې کله کله په یویشتمه پېړۍ او د موډېرنیزم په اوج کې یې ګڼ پښتانه شاعران سیالي کړلای نه شي. خوشال څکه د خپلې زماني موډېرنیست پښتون دی، چې متفاوت فکر کوي او خپل فکر بیانوي، له چا نه ویرېږي:

**زه خوشحال کمزوری نه یم، چې به دار کړم**
**په ښکاره ناري وهم، چې خوله یې راکړه**

«خوله یې راکړه» د ایهام د بدیع له مخې په دواړو ماناوو اخیستلای شو، (معشوقې د ښکلولو لپاره خوله راکړه) او

یا:

«هستوونکي د دې لپاره خوله راکړې، چې وینا پرې وکړم» په دویمه مانا کې خوشال فرمایي:

زه له چا نه وېرېږم، خوله څکه راکړل شوې، چې هرڅه وویلای شم. خوشال نوی(متفاوت) فکر کوي او له ورکړل شوې خولې کار اخلي او خپل فکر بیانوي.

خو څه ډول فکر؟

خوشال کله کله د تر ټولو موډېرن فیلوسوفیک مکتب اېګزېستېنسیالیزم (د حضور/ وجود اصالت) پر پله عجیبې پایلې ته رسېږي. موږ یې څو ځایه په شعرونو کې دا موندلای شو، چې وایي: انسان د خپل ماهیت په جوړولو مکلف دی:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**دې دنيا ته ټول راغلي دي بې نومه**
**نر هغه دی چې خپل نوم پکې پيدا کړي**

يا:

**پښ تبشه ماته کا آئينه سازه کا**
**چې تر تبشه نه ښه آئينه ده**

ان، چي لا وګړواله ازادي د خوشال لپاره کټ مټ هغه ازادي ده، چي د وجودي فيلوسوفي پلويان يې د (فرد) لپاره تعريفوي:

**زه به نن غرض و ګانده ته پريږدم**
**که د ګانده د ژوندون سرې ضمان شي**

**ازادي تر بادشاهيه لا تېرې کا**
**چې د بل تر حکم لاندې شي زندان شي**

د ښووني و روزني په اسلوب کي د خوشال نظريات، د سبکس په اړه د خوشال رندانه بيان او د يوه غوره انسان لپاره د دستار د سړي سېمبوليک ايډيال انځورول دا ټول څرګندوي، چي دغه تر خپلي زماني ډېر موډېرن پښتون له هره اړخه د راروانو زمانو په افکارو سنبال انسان و.

په نيوکلاسيکانو کي غني خان له دي اړخه کټ مټ هغه ځانګړني لري، چي خوشال شاوخوا ځلور پېړی پخوا لرلي. خو په شعر کي موډېرنيزم يا د موډېرن شعر مفاهيم د شلمي پېړۍ مفاهيم دي. په شلمه پېړی کي موډېرنيزم د يوه شاعرانه او په لوی سر کي د يوه ادبي – هنري مکتب په توګه سر راپورته کوي، چي ځانګړني يې د تحليل، نقد او ارزوني وړ دي.

نوربيا



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ